# د فعالې زده کړي په وړاندې ستونزې

**خان محمد مومند**

نامزد پوهنیار، پښتو ادبیات، ښوونې او روزنې پوهنځی، غور پوهنتون. (نویسنده مسئول)، ایمیل آدرس:
momandkhan1990@gmail.com

تاریخ دریافت: ۱۴۰۴/۴/۲۰ – تاریخ پذیرش: ۱۴۰۴/۶/۱۴ – تاریخ نشر: ۹/ ۱۴۰۴/۱۰

## چکیده

په ښوونېزو ادارو کې او په ځانګړي ډول په ښوونځیو کې د ټولو خدماتو اصلي موخي په مختلفو طریقو د زده کوونکو او محصلینو د پوهاوي او زده کړو لوړول دي نو په همدې اساس یوه بهترینه طریقه چې زده کوونکې په اسانۍ سره کولی شي خپل درسي موضوعات زده کړي او هغوي د پوهي کچه لوړه کړو نو هغه فعاله زده کړه ده، فعاله زده کړه هغه ښوونیزه لاره ده چې زده کوونکې په کې په فعاله توګه ګډون کوي په دې ډول زده کړه کې زده کوونکې یوازي اوریدونکې نه وي بلکې پوښتنې کوي، بحثونه کوي مسلې حلوي او خپل نظرونه وړاندې کوي، په فعاله زده کړه کې د زده کوونکو فکر، نوښت او د تحلیل قوه پیاوړي وي، زده کړه یې ژوره او دایمي وي په دې میتود کې د ښوونکې له خوا لار ښوونه کیږي او زده کوونکې په کې اصلي رول لري، نو دا څېړنېزه مقاله په غور ولایت په مکاتبو کې د فعاله زده کړ ي په وړاندې په پرتو ستونزو راڅرخي او په اړه یې تفصلي بحث شوی دی.

**کلمات کلیدی:** زده‌کړه، فعاله، غیرفعاله، تعلیم

**استناد:** مومند، خان محمد. (۱۴۰۴). د فعالې زده کړي په وړاندې ستونزې. *مجله علمی- پوهنتون غور تحصیلات عالی غور*، ۲ ( ۱)،۱۴۷-۱۷۰.

# Challenges Facing Active Learning

Lecturer, Pashto Literature, Education, Ghor University (Corresponding Author), Email Address: momandkhan1990@gmail.com

Received: 16/7/2025 | Accepted: 6/9/2025 | Published: 30/12/2025

**Abstract**

The main target and objective of all services in educational institution is to enhance the understanding and learning of students in various ways. Therefore, one of the best methods for students to easily learn their subject and improve their level of understanding is active learning is an educational approach where students actively participate in this type of learning, students; are not just listeners; they ask questions, engage in discussions, thinking, analysis, innovation and collaboration, making their learning deep and lasting. In this method, guidance is provided by the teacher and the student plays a central role. This research article focuses on the on the implementation of active learning in school in Ghor province addressing various evaluations and providing a detailed discussion.

**Keywords**: Learning, Method, Active, passive, Education.

**Cite: Mumand**, Kh.M. (2025). Challenges Facing Active Learning. *Scientific Journal of Ghor University, 2*(1), 147-170.

**سریزه**

په انساني ټولنه کې زده‌کړه د انســان په سلوك او کړو وړو کې مثبت تغییر او بدلون راولي. ددغه بدلون د راوستلو لپــاره بېلابېلې لارې او روشونه موجود دي چې د دې کړنلارو پــه وسیله کــولی شو په اسانۍ سره خپلې موخې ترلاسه کړو، د دغو لارو له جملې څخه یوه هم د فعالې زده‌کړې لاره او مېتود دی چې د اغېزمنې زده‌کړې لپاره په اوسني وخت کې په ټولـه نـړۍ کـې منـل شـوی دی.

د فعـــالـــې زده کـــړې نـه مـــوخه دا ده چې پـه درس کـــې زده کـــوونکي فعالـه وي او ښوونکی د لارښـــود او مشاور رول ادا کړي، په همدې ترتیب سره زده‌کړه په اغېزمنه توگه ترسـره کېږي ، را څــو دې تـه چې د دغې کړنلارې څخه زموږ په گران هېواد کې په ښـوونیزو ادارو کـې تر کومه بریده گټه اخیستل شوي ده؟ څومره په زده‌کړه کې اغېزمنه واقع شـوي ده؟ او د دې مېتـود پر وړاندې کومې ننگونې او ستونزې موجودې دي؟ په هم دې ودلیـل د دغـې څېړنېـزې موضـوع اصلي مـوخه د هغو ستونزو پیدا کول او په نښه کول دي چې د فعالې زده‌کړې پـه وړانـدې شـتون لري، مسولو چارواکو ته یې په گوته کړ تر څو یوه مناسبه د حل لار ورته پیدا کړي او ښوونکي په خلاص مټ په اغیزمنه او سم ډول په خپلو درسـونو کـې د فعـالې زده کـري لـه میتـود څخـه گټـه واخلي، د دې ترڅنگ به په دې هم وپوهېږو چې فعـــاله زده کـــړه څـه تـه وایـي؟ د فعـــالې او غیــرفعالې زده کړې ترمنځ څومره تــوپیر شتون لـري؟ د فعـــالې زده کـــړې گټـې څـــه دي؟ کومې ځانگړتیاوې لـــري؟ او کوم مېتودونه په فعال زده‌کړه کې راځي؟ دغه ټـول موضـوعات پـه مسلسل او منظم ډول ســره د نړۍ د پیژندل شو څېړنېزو مېتودونو، معتبرو کتـابونو، مقـالو او نـورو علمي سرچینو څخه د گټې اخیستنې پر بنسټ تحلیل، تجزیه او ترتیب شوې دي.

**۲.د څېړنې مسئله**

زموږ په ښوونیزو مرکزونو او په ځانگړي ډول په ښـوونځیو کـې لېـدل کېـږي چې زیـاتره وخــت ښـوونکي په خپل تدریس کې د فعالې زده کړې مېتود په ځـای د غېـري فعـال میتـود څخـه گټـه اخلي، نو دې چاري زموږ د زده کوونکو زده کړي او علمي پرمختگ د خنډ او ځنډ سره مخ کړي دی. نـو ځکه مـو د مـوضوع د تحقیق اســاسي مسئله وگرځوله، ترڅو هغه ستـــونزې چې د دې

مېتود د تطبیق پــر وړانـدې شته، پېـــدا او مسـول چـارواکي ورتـه متوجـه کـړو، وړ او مناسـب وړاندېـزونه ورته ولرو، چې دا مېتود ښه تطبیق کړي.

### ۳.د څېړنې ارزښت او اړتیا

په اوسني وخت کـــې د پوهنې وزارت د تـدریس په چارو کې پـه فعالـه زده کـړه بانـدې زیـات تاکید او سپـــارښتنه کـوي، ځکه چې پـــه زده کــــړه‌ییز چاپیـریـــال کې پـه اغېزمنـــه تـــوګه د مـــوخو لاسته راوړلو اسـاسي وسیله ده، د دې لپاره چې ټول ښوونکې باید د فعالـه زده کـړي لـه مېتود سره بلدتیا او اشنایي پیدا کړي، خـــو زموږ د هېواد په ښوونېز نظام کې دا میتود نوی او اوس په کار اچول شوی دی، نو ځکه یې پر وړاندې یو څه ستونزې او ننګـونې موجـودې دي. پـه دې څېړنېزه موضوع کې به انشاالله دا سـتونـزې پیدا او مسولو چارواکو ته به په ګوته شي، د حل لارې چارې به ورته پیشنهاد شي چې په تدریس کې ترې په اغېزمنه او ګټوره توګه ګټه واخیستل شي.

### ۴.د څېړنې موخې

۱ – د فعالې زده کړې د ښه تطبیق په اړوند لارې، چارې پیدا کول.

۲ – د دې میتود د ښېګڼو پېژندنه.

۳ – د فعالې زده کړې ارزښت د لوړولو لپاره، ښوونکو د هڅولو لارو چارو موندل.

۴ – ښوونکي د فعالې زده کړې ارزښت ته متوجې کول.

### ۵.د څېړنې پوښتنې

۱ - ایـا ښـــوونــکي د فعـــالــې زده کــړې پــر واړنــدې د سـتــونــزو په اړه پوهاوی لــري؟

۲. تر کومې کچې ښوونکي د فعالې زده‌کړې په اړوند پوهه لري؟

۳. د فعالې زده کړې د ارزښت د لوړولو تخنیکي لارې چارې کومې دي؟

### ۶.د موضوع مخینه

په انساني ټولنه کې د علم ارزښت دومره لوړ دی چې الله تعالی د قران په لومړي ایات کې د( اقرا) ولوله، امر وکړ، زده کړه انسان ته پوهـه، شعور او د فکـر کولـو توانـایي ورکـوي، د زده کـړي پـه ارزښت او اهمیت ډېري خبـري کیـدای شي خـو زه پـه لنډو ټکـو دومـره وایـم چـې زده کـړه د ژنداساس او بنسټ دی. زده کړه او تعلیم یوه عربي کلمه ده چې چې زده کول او زده کړه ورکولـو معنا لري په اصطلاح کې د زده کوونکو ذهنونو تـه د معلومـاتو انتقـالول دي، همـدا معلومـات پـه

ښوونېزو ادارو کې او په زده کړيزو ټولګيو کې په مختلفو او بيلا بيلو ميتودونو او طريقو سره تر سره کيږي چې يو له هغو څخه د فعالې زده کړي ميتود دی.(شبازخيل، ۱۳۹۵، ۲م).

فعاله زده کړه د نن عصر تقاضا ده او که غواړو چې يوه فعاله، فکري او توليدونکې ټولنه ولرو بايد د دې ميتود پلي کولو ته جدي پاملرنه وکړو، فعاله زده کړه د زده کړو يوه نوي او اغيزمنه لاره ده چې د زده کوونکو د ګډون، فکر کول، تحليل او عملي کار سره تړاو لري دا ميتود زده کوونکي هڅوي چې له درس سره ژوره اړيکه پيدا کړي او خپلو مهارتونو ته وده ورکړي د تدريس بهير يا پروسه د زده کوونکو په سلوک کې مطلوب تغيير او د زده شوو تجربو له لېږد څخه عبارت ده. (سعيد،۲۰۰۵، ۳۴م).

### ۷ـ کړنلاره

ميتود يوناني کلمه ده چې له دوو مورفيمونو څخه جوړه شوي ده، يو يې Meta او بله يې Hodes ده نو يوه ترکيبي کلمه ده چې د ميتا معنا دننه، په منځ کې او پرلپسي معنا لري او د هود Hodes معنا لاره ده.

په دوديزه او عنعنوي توګه يې داسي معنا کوو، ميتود يو ترتيب شوی، منظم او ځانګړي طريقه يا لاره ده چې د يو هدف او موخي د تر لاسه کولو لپاره کارول کيږي، يا درسي ميتود هغه جوړوونکي فعاليتونه دي چې ښوونکې يې د تعين شوو هدفونو د لاسته راوړلو لپاره سرته رسوي په عمومي ډول دوه ډوله ميتودونه پيژنو فعال او غيري فعال.(شيرزاد،۱۴۰۰ل،۲۰ـ۲۱م)

### ۷ـ۱ - فعاله زده کړه:

فعاله زده کړه يوه زده کړيزه طريقه ده چې زده کوونکي په پلان شوو درسونو کې فعاله برخه اخلي، فکر کوي، بحث کوي، تمرين کوي او خپل ذهن فعاله ساتي د تدريس په دې ميتود کې زده کوونکي يوازي اوريدونکي نه وي بلکي د زده کړي اصلي برخه وي. (عرفان مجله، ۱۳۵۹، ۲۱م).

الف- په فعاله زده کړه کې زده کوونکي ژوندي، بيدار او متحرک وي، زده کړه د عمل او تجربې له لارې صورت نيسي زده کوونکي عمل کوي، زده کړه تحليلي او په درک متکي وي.(حقيار، ۱۳۹۵، ۳۵م).

ب- په فعاله زده کړه کې زده کوونکې د زده کړې لپاره اماده او تيار وي، زده کوونکي تازه او احساسات يې قوي وي، درس په علاقه مندۍ د ورځينيو اړتياو په اساس لولي او د هميش لپاره په ټولګې کې فعاله وي.( حقيار.۱۳۹۳، ۱۳-۱۴م)

ج ـ باتجربه او د فعالې زده کړي په ميتود باندې حاکم ښوونکې هميشه په تدريس کې د زده کوونکو د برخې اخيستنې احساس په لوړه سويه ساتي چې دا کار د زده کوونکو توانايي، جرآت او علاقه زياتوي او زده کړه د همدغو تجربو محصول ګڼل کيږي.( تازه، ۱۳۸٦، ۱٦-۱۷م)

د ـ په فعاله زده کړه کې زده کوونکې فعاله برخه اخلي د ابتکار قوه يې ژوندۍ وي زده کوونکې د لاسته راوړل شوو معلوماتو څخه د عملي استفادي جرات پيدا کوي د تجاربو په عملي کولو کې زده کوونکي د خارجي دنيا او محيطي عواملو او ستونزو په مقابل کې حل لاري لټولی شي.(سالمي، ۲۰۰۲، ۲۱-۲۳م)

هـ ـ هر هغه درسي ميتود او کړنلاره چې زده کوونکې په کې فعال وي په درس کې مکمل سهيم او ګډونوال وي، پوښتنې کوي، انتقاد کوي تخليل کوي او خپل نظريات وړاندې کوي عبارت د فعالې زده کړي له ميتود څخه دی.( صاحبزاده، ۱۹۸۸، ۲۷م)

**۲-۷- غيري فعاله زده کړه**

په ښوونيزو ادارو کې دا هغه ډول زده کړه ده چې زده کوونکې په کې يوازې اوري، وينې يا لوستل کوي، خو عملي ګډون يا تعمل نه لري. په دې ډول زده کړه کې زده کوونکي يوازي د معلوماتو اخيستونکي وي، نه فعاله ګډونوال.درس يو طرفه وي يوازي ښوونکې خبري کوي او زده کوونکي يي اوري زده کوونکي ډيري لږي پوښتنې کوي په دې زده کړو کې زده کوونکي مفاهيم نه بلکي حفظ کوي د استدلال، تحليل يا د انتقاد مهارت نه زده کوي.( الهام، ۱۹۹۵، ۳۰-۳۱م)

الف- په غيرې فعاله زده کړه کې زده کوونکي ارام او غلي ناست وي، زده کړه په حفظ او د لکچر په بڼه صورت نيسي د زده کوونکو هغه خواس چې په زده کړه کې ونډه اخلي غيري فعال وي (ابدالي،۲۰۰۰، ۳۵م).

ب ـ په غېږي فعاله زده کړه کې زده کوونکي درس د امتحان لپاره لولي په تدریس کې زده کوونکې فعال نه وي په درس کې ونډه نه اخلي، زده کونکي یوازي اوري، گوري ټول فعالیتونه د استاد په غاړه وي.(سعید،۱۳۸۹، ۴۷ـ۴۹م)

**۸ـ د غور ولایت د مرکزي مکاتبو احصایه**

څرنگه چې د دې څېړنې اصلی موضوع د غور په مرکزي ښوونځیو کې د فعالې زده کړي په وړاندې ستونزې پیدا کول دي نو ښې روښانتیا لپاره به دلته د غور ولایت په مرکز کې دښوونځیو شمیر، په ښوونځیو کې د ښوونکو شمیر او په دې ښونځیو کې د زده کوونکو د شمېر په اړه ارقام وړاندې کړو:

غور ولایت د معارف ریاست په حواله، په(۱۴۰۳ ه ش)کال لیکي چې د غور په مرکز کې ټول ټال(۱۸۰) ښوونځي دي چې په دې ښوونځیو کې(۹۵) لومړني یا ابتدایه ښوونځي دي.(۴۶) منځني یا متوسطه ښوونځي دي او(۳۹) لیسي فعالې دي، چې په ټولیزه توگه پکې(۶۱۰۰۰) زده کوونکي هلکان او نجونې په زده کړو بوخت دي.

یادو زده کوونکو ته څه دپاسه(۱۱۹۴) زره ښوونکو له خوا زده کړه او درس ورکول کېږي .

همدا رنگه د غور په مرکز کې(۴۸) مدرسې(۲) دار العلومونه(۴۶) در الحفاظونه هم فعال دي، چې د (۳۳۶) تنو ښوونکو لخوا (۸۷۸۷) زده کوونکو ته پکې زده کړې ورکول کېږي.

د غور په مرکز کې(۲) تخنیکي او مسلکي ښوونځي هم فعال دي ، چې د(۳۲) ښوونکو له خوا پکې(۷۴۳) زده کوونکو ته زده کړه ورکول کېږي.

**۹ـ.د څېړنې میتودلوژي**

په دې څېړنه کې د مخلوط میتود یعني کیمي او کیفی دواړو روشونو څخه کار اخیستل شوی، چې یاده موضوع په ښه ډول د مختلفو اړخونو وڅیړل شي.

**۲,۷ د معلوماتو د راټولو لارې**

په دې څېړنې کې د پوښتنلیک مرکې مشاهدې له مخې اطلاعات راټول شوي، چې هریو یې په لنډ، منظم او په ترتیب سره تشریح کوو.

**۳,۷ پوښتنلیک**

په دې څېړنه کې له ترلو پوښتنو څخه ګټه اخیستل شوي، هڅه او هاند شوي، چې پوښتنې روښانه او د څېړنې د موضوع، مسلې او اهدافو سره اړوند وي، پوښتنلیکونه په ( ۷۰ ) تنو ښوونکو او زده کوونکو باندې ویشل شوي، د دې پوښتنلیکونو له جملې څخه(٦٠ ) دانې پوښتنلیکونه بشپړ شوي دي او پاتې نور بې ورک او مسترد شوي دي، د مستردیدو علت یې د خط نه لوستل دي، د دې ترڅنګ د پوښتنلیکونو پوښتنې په مختلفو کټګوریو کې طرحه شوي دي.

**۴,۷ مرکه**

په مرکه کې محقق بایدپه بیلابیلو افکارو او نظریاتو د نقد کولو د خپل فکر او نظر وړاندې کولو لپاره باید د قانع کوونکو دلایلو استعداد ولري. (ملک،۱۳۹٦، ۴۳م) .

په دې څېړنه کې د انفرادي مرکې څخه ګټه اخیستل شوي، د مخکې طرحه شو پوښتنو پر بنسټ او همدارنګه د غیري منسجمو پوښتنو په اساس د(۵) تنو سره مرکه شوي، خو دهغوي اوازونه بـه په کې نه دې ثبت شوي، د مرکې د ګډونکوونکو له ډلې څخه یو تن مدیر، یو تن سرښوونکی او پاتې نور ښوونکي دي. د مرکې په وخت کې اخلاقي ارزښتونه په جدي ډول سره په نظر کې نیول شوي دي، په لومړیو کې د مرکې کیدل او مرکې موخې او وخت روښانه شوی دی او هغوي ته ډاډ ورکړل شوی دی، چې د مرکې محرومیت ساتل شوی او همدارنګه د مرکې لپاره ارام چاپیریال ټاکل شوی او د مقابل لوري د نوم د اخیستلو څخه مخنیوی شوي دی.

**۵,۷ مشاهده**

په ساحوي څېړنه کې د مشاهدې تکنیک نه هم استفاده کېدای شي، د پوښتنلیک او مرکې په شان مشاهده هم د ساحوي څېړنې لپاره مهمه ده، د مشاهدې په تکنیک محقق ته ډېر ځله اړتیا محسوسیږي چې خپله ساحې ته لاړ شي او پیښې د نږدې نه مشاهده کړي چې د محقق سره د موادو په لاس ته را وړلو کې ډیره مرسته کوي.( هاشمي، ۱۳۹٦، ۲۵م).

په دې څېړنه کې(۵) مشاهدې ترسره شوي، خو د فملبرداری څخه پکې په چورلټ ډول سره کار نه دی اخیستل شوی. ټولې مشاهدې د مختلفو ښوونځیو د ښوونکو او زده کوونکو سره شوي، علاوالدین په عالي لیسه کې د د دوو(۲) ښوونکو او زده کوونکو. خدیجه ت الکبرا د لیسې د(۲) ښوونکو او زده کوونکو، او پاتې یوه مشاهده په پوزلیج کې د پوزلیج په عالي لېسې کې د یو(۱)

ښوونکي او ځو زده کوونکو سره شوي دي، مشاهده د مشاهدې د ټولو اصـــــولو پربنسټ اجرا شوي ده.

### ۶,۷ د څېړنې ګډون وال

د دې څېړنې ګډون وال د غـور ولايـت پـه مرکـز کـې د پينځـو ښـوونځيو مـديران، سرښـوونکي، ښوونکي او زده کـوونکي دي، پـه لـومړي جـدول کـې د څېړنـې ګـډونوال د مختلفـو تعليمـي او تحصيلي سويې درلودونکې دي (۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶) پاس دي، همدارنګه د جنست له نظره نارينه او ښځينه دواړه په دې څېړنه کې ګـډون لـري. ګـډونوال د مختلـف عمـر درلودونکي دي، کولای شو چې هغه روښانه کړو، ښوونکي او استادان د(۲۴ــ۶۰)کـالو پـورې او زده کوونکي د(۶ـ۲۵)کالو پورې عمر لري.
لومړی جدول د څېړنې ګډون وال راپېژني:

جدول۱: د څېړنې ګډون وال د معلوماتو د راټولو د روش پر بنسټ يې تفکيک شوی دی.

| د معلومـاتو د راټولو لارې | د څېړنې د ګډون والو ډلې | تعداد | | |
|---|---|---|---|---|
| | | نارينه | ښـځيـنه | مجموعه |
| پوښتنليک | ښوونکي او زده کوونکي | ۵۰ | ۱۰ | ۶۰ |
| مرکه | مدير، سرښوونکی او ښوونکي | ۴ | ۱ | ۵ |
| مشاهده | د ښوونکو د درس ورکولـو لـه بهيـر څخـه سرچېنه نېسي. | ۳ | ۲ | ۵ |

### ۷,۷ د څېړنې ځای

دا څېړنه د غور ولايت مرکز کې د مختلفو ناحيو د ټولو لېسو او منځنيو ښوونځيو څخه د نمونې په بڼه په پنځوو لېسو کې ترسره شوي، لکه د سلطان راضيه عالي ليسه، د شهاب الدين عالي ليسه، د علاولدين عالي ليسه، د خديجه ت الکبرا عالي ليسه او همدارنګـه پـه پـوزليج کـې د پـوزليج پـه عالي لېسه کې ترسره شوي، په دغو لېسو کې څېړنه د ښوونکو د درس په بهير کې او همدارنګـه د درس له جريان څخه بيرون هم شوي ده.

**۸,۷ نمونه اخیستنه**

په دې څېړنه کې انفرادي نمونه اخیستنه په ناڅاپي، قصدي او قرعه کشی په ډول سره غوره شوې ده، خو په منظم او سیستماتیک ډول ورڅخه ګټه پورته شوي، او نمونې د ټاکلو لپاره وضع شوو معیارونو پربنسټ یې صورت نیولی، چې له انفرادي ځانګړتیاو څخه نمایندګي وکړي، د دې څېړنې پربنسټ د ښوونکو او زده کوونکو عمر، سویه او د زده کړې مناسبې نمونې اخیستل شوي دي. په دې څېړنه کې نمونه اخستنه په دې ډول شوې، چې په هدفمند ډول لیسې او بیا په لیسو کې د (٦-١٢) پورې په هره لیسه کې یو ټولګی لکه: په شهاب الدین لیسه کې د پوښتنلیک لپاره په (۱۲) ټولګې کې د نومرې په اساس له (۲) شمارې څخه پیل او جفت زده کوونکي ټاکل شوې. په (۱۰) ټولګي کې د ښوونکي درس او د زده کوونکو وړاندې اخستنې څخه مشاهده شوي.

په علاولدین لیسه کې هم د پوښتنلیک لپاره په (۱۲) د نومرې په اساس له (۲) شمارې څخه پیل او جفت زده کوونکي ټاکل شوي. د مرکې لپاره یو مدیر په خپله خوښه ټاکل شوی او په لسم(۱۰) ټولګي کې د ښوونکي درس او د زده کوونکو وړاندې اخستنې څخه مشاهده شوي.

د پوزلیج په لیسه کې د پوښتنلیک لپاره په دولسم(۱۲) ټولګي کې د نومرې په اساس له (۲) شمارې څخه پیل او جفت زده کوونکي ټاکل شوي. د مرکې لپاره یو سر ښوونکی په خپله خوښه ټاکل شوی دی. په یولسم (۱۱) ټولګي کې د ښوونکي درس او د زده کوونکو وړاندې اخستنې څخه مشاهده شوي.

په خدیجه ت الکبرا لیسه کې. د مرکې لپاره یوازې یوه ښوونکې ټاکل شوي او په ( ٦) ټولګي کې ددوو ښوونکو درس او د زده کوونکو وړاندې اخستنې څخه مشاهده شوي.

**۸. د معلوماتو تحلیل او شننه**

د محتوا په تحلیل کې محقق تر لاسه شوي مواد د تجزیه، شنني او تحلیل لاندې نیسي او د خپلو پوښتنو د ځوابونو لټون کوي چې د اړوندو اسنادو له پوهاوي څخه د منظمې ګټنې له پاره منظم بیلابیل فرصتونه چمتو کوي.( شازیه، ۱۳۹۸، ٦۱م)

وروسته له دې نه چې دا معلومات د پوښتنلیک، مرکې او مشاهدې په وسیله راټول شوي دي، په لومړیو کې په جداګانه کتیګوریو د څېړنې د پوښتنو او موضوع پربنسټ ترتیب شوي او هغه چې سره یو شان و، یوځای ډلبندي شول، او هغه چې متفاوت وه، مختلف او په جداګانه ډول سره

ډلبندي شوي، وروسته له دې نه هره ډلبندي د ایکسل کمپیوټري پروګرام پربنسټ تعبیر، توضیح، تجزیه او تفسیر شوي، په نتیجه کې ددغې څېړنې د انکشاف باعث وګرځېدل.

**۹. اخلاقي مسله**

اخلاقي ارزښتونه یو خوښوونکی او منظم سیستم دی چې د اسلامي او اخلاقي اصولو څخه عبارت دي چې د یوي ټولنې افراد پری باید اراسته وي. (صالح، ۱۳۹۷، ۴۱م).

د دې څېړنې په ترسره کولو کې د اخلاقو مسله به په جدي ډول سره په پام کې ونیول شي، د څېړنې په لومړي ګام کې د څېړنې ګډون والو نه د اجازې اخیستلو وروسته، ورته د څېړنې موضوع په بشپړ ډول سره روښانه، واضحه او تشریح شوي، همدارنګه د څېړنې موخې ورته هم روښانه شوي او وروسته ورته د دوي محرومیت د ساتنې ډاډ په احترامانه ډول ورکړل شوی.

**۱۰. د څېړنې لپاره اسانتیاوي**

د څېړنې د ترسره کولو لپاره د اداري له خوا یوه اندازه اسانتیاوي برابري شوي وي لکه د معلوماتو د راټولو لپاره د کمپیوټر، انټرنیټ، پرینټر او د کاپي ماشین څخه په خلاص مټ استفاده کول، د څېړنې ځای ته تګ لپاره یو رسمي مکتوب راکول چې په دې مورد کې ډېره زیاته اسانتیا برابره کړي وه.

**۱۱. د څېړنې اعتبار او باور**

څرنګه چې د څېړنې اړوند موضوعات او معلومات د نړۍ د پېژندل شو میتودونو پربنسټ راټول شوي، یعنې (د پوښتنلیک، مرکې او مشاهدې) څخه په کې کار اخیستل شوی. په همدې دلیل په دې څېړنه کې د معلوماتو د راټولو د اعتبار او باور په مورد کې هیڅ شک نه شته او نه به پاتې وي. نو په یاد مورد کې د مطالعې اجرا، د اکاډیمیکو او علمي اصولو او قواعدو سره سم پرمخ تللي او یاده څېړنه د لوړ اعتبار او معتبروالی سبب ګرځېدلي.

**۱۲.د څېړنې له نتیجې څخه هېله مندي**

کومه څېړنه چې ترسره شوي ده، د دې څخه ستره او لویه هېله دا ده چې اینده کې په ښوونځیو کې د فعالې زده کړې د عملي کولو پروړاندې ستونزې ته د پوهنې اړوند چارواکو پام شي او یادي ستونزې به په علمي او منطقي ډول له منځه ویسي او په اینده کې ښوونکي او زده کوونکي د

فعالې زده کړې د عملي کولو پر وخت ورسره بيا مخامخ نه شي او په اغېزمنه توگه خپلې موخې تر لاسه کړي.

**۱۳. د څېړنې پروړاندې محدودیتونه او خنډونه**

۱ – د څېړنې د ساحې پراخوالی او دهغې ټولو اړخونو ته د بشپړوالي او رسیدلو لپاره کم وخت او د ترانسپورټ نه شتون.

۲ – یو د بل نه د څېړنې د ځایونو لرې والی.

۳- په یاده څېړنه کې کافي علمي او څېړنېزو سرچېنو ته د لاس رسي کمښت.

۴ـ د فعالې زده کړې د میتود په باره کې د ښوونکو او زده کوونکو کم پوهاوی،

۵ـ د څېړنې په وخت کې د ښوونکو او زده کوونکو د همکارۍ کمښت.

**۱۴. وضاحت**

په دې څېړنه کې د دریو روشونو ( پوښتنلیك، مرکه او مشاهدې) څخه کار اخیستل شوي دی، چې نتیجه یې په لاندې ډول سره یاده شوې ده.

**۱۵. د ښوونکو پوښتنلیکونه**

په (۲۰) تنو ښوونکو دا لاندې پوښتنپاڼې ویشل شوي وي:

۱پ ـ ایا تاسو په خپل تدریس کې د فعالې زده کړي له میتود څخه په ښه او مناسب ډول گټه اخلي؟

۲پ ـ تر کومې اندازي د نصاب د تطبیق لپاره په تدریس کې د فعالې زده کړي له میتود څخه گټه اخلي؟

۳پ ـ تاسو تر کومې اندازي د فعالې زده کړي له موادو څخه په تدریس کې گټه اخلي؟

۴پ ـ ایا تاسو د فعالې زده کړي په جریان کې ټولو زده کوونکو ته په مساویانه ډول برخه ورکوي؟

۵پ ـ تاسو تر کومه حده په خپل تدریس کې فعالې زده کړي ته ژمن یاست؟

٦پ ـ تاسو د فعالې زده کړي په جریان کې تر کومې اندازي له زده کوونکو سره همکاري کوي؟

۷پ ـ تاسو د فعالې زده کړي په پلې کولو کې څومره ستونزي لري؟

۸پ ـ ایا تاسو د فعالې زده کړي سره علاقه او دلچسپي لري؟

**۱۶. ښوونکو د پوښتنلیکونو ځوابونه**

**د لومړۍ پوښتنې ځواب)**

د دې پوښتنې په ځواب کې (۵) تنو ښوونکو (۲۵٪) په لږ اندازه، ۷ تنو ښوونکو (۳۵٪) تر یوې اندازې او(۸) تنو ښوونکو (۴۰٪) په زیات ډول سره ویلي وه چې یوه درسي موضوع د زده کړو د فعال میتود په واسطه په ښه ډول تدریس کیږي.

**د دویمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې (۱۰) تنو ښوونکو (۵۰٪) په لږ اندازه، (۵) تنو ښوونکو ( ۲۵٪) تریوه حده او( ۵) تنو نورو ښوونکو ( ۲۵٪) چې پنځه ویشت سلنه کېږي، لیکلي وه، چې درسي موضوع د فعالې زده کړې پروخت کې د پلان سره سمه تدریسېږي.

**د دریيمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې(۵) تنو ښوونکو (۲۵٪) تریوه حده او( ۱۵) تنو ښوونکو (۷۵٪) په زیات ډول سره ویلي وه، چې د فعالې زده کړې پروخت د فعالې زده کړي له میتود او موادو څخه استفاده کوو.

**د څلورمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې(۵) تنو ښوونکو (۲۵٪) په لږ اندازه، ۵ تنو نورو ښوونکو (۲۵٪) تر یوه حده او (۱۰) تنو ښوونکو (۵۰٪) په زیات اندازه لیکلي وه، چې ټولو زده کوونکو ته په فعاله زده کړه کې په مساویانه ډول سره برخه رسېږي.

**د پنځمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې (۱۰) تنو ښوونکو ( ۵۰٪) تریوه حده او (۱۰) تنو نورو ښوونکو (۵۰٪) په زیات اندازه لیکلي وه، چې د فعالې زده کړې پروخت، وخت ته ژمن دي.

**د شپږمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې (۵) تنو ښوونکو ( ۲۵٪) په لږه اندازه، ۵ تنو نورو ښوونکو (۲۵٪) تریوه حده او (۱۰) تنو ښوونکو (۵۰٪) په زیاته اندازه لیکلي وه، چې د فعالې زده کړې پروخت د زده کوونکو سره همکاري کوي.

**د اوومې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې (۵) تنو ښوونکو (۲۵٪) تریوه حده او ۱۵ تنو نورو ښونکو (۷۵٪) په زیاته اندازه لیکلي وه، چې ستونزې د فعالې زده کړې پروخت درلودې.

**د اتمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې ټولو ښوونکو (۱۰۰٪) د نظر په یوالې سره  لیکلي وه، چې د فعالې زده کړې سره زیاته علاقه او دلچسپې لري.

**۱۷. د زده کوونکو پوښتنلیکونه**

**په ۴۰ زده کوونکو باندې پوښتن پاڼې هم ویشلې وې، چې د ځوابونو لنډیز یې د پوښتنو لاندې دی.**




شکل ۱: د ښوونکو د پوښتنلیکونو دځوابونو گراف

۱پ ـ ښوونکی په تدریس کې د فعالې زده کړې له میتود څخه تر کومې اندازې ښه استفاده کوي؟

۲پ ـ په فعاله زده کړه کې درسي موضوع د پلان مطابق په سم ډول تدریس کیږي؟

۳پ ـ تاسو تر کومه حده د فعاله زده کړې له میتود څخه په تدریس کې کار اخلي؟

۴پ ـ په فعاله زده کړه کې تر کومې اندازې په تدریس کې ټولو زده کوونکو ته په مساوي ډول برخه رسیږي؟

۵پ ـ ښوونکی تر کومې اندازې په فعاله زده کړه کې وخت ته پابند وي.

۶پ ـ د فعالې زده کړې په جریان کې ښوونکی څومره له زده کوونکو سره همکاري کوي؟

۷پ ـ د فعالې زده کړې په عملي کولو کې څومره ستونزې لري؟

۸پ ـ ښوونکې او زده کوونکي په فعاله زده کړه کې تر کومې اندازې علاقمند دي؟

**د لومړۍ پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې ۱۳ تنو زده کوونکو (٪۳۲,۵) په لږه اندازه،۷ تنو زده کوونکو (٪۱۷,۵) تریوې اندازې او ۲۰ تنو نورو زده کوونکو(٪۵۰) زیاتې اندازې پورې فعاله زده کړه د درسي موضوع د وړاندې کولو پر وخت ښه ترسره کیږي.

**د دویمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې ۱۹ تنو زده کوونکو (٪۲۲) په لږه اندازه، ۱۵ تنو زده کوونکو (٪۳۷,۵) تریوې اندازې او ۱٦ تنو نورو زده کوونکو (٪۳۵) زیاتې اندازې پورې د فعالې زده کړې پر وخت درسي موضوع د پلان سره په سمه توگه تدریسیږي.

**د درییمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې ۱۸ تنو زده کوونکو (٪۴۵) تریوې اندازې او ۲۲ تنو نورو زده کوونکو (٪۵۵) زیاتې اندازې پورې د درسي موادو څخه د فعالې زده کړې پروخت استفاده کیږي.

**د څلورمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې ۱۵ تنو زده کوونکو ( ٪۳۷,۵) په لږه اندازه، ۱۵ تنو نورو زده کوونکو (٪۳۷,۵) تریوې اندازې او ۱۰ تنو زده کوونکو (٪۲۵) زیاتې اندازې پورې زده کوونکو ته د فعالې زده کړې پر وخت په مساویانه ډول سره برخه رسیږي.

**د پنځمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې ٦ تنو زده کوونکو (٪۱۵) په لږ اندازه، ۹ تنو زده کوونکو (٪۲۲,۵) تر یوې اندازې او ۲۵ تنو نورو زده کوونکو (٪٦۲,۵) زیاتې اندازې پورې د فعالې زده کړې پروخت ښوونکي وخت ته پابند وي.

**د شپږمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې ۸ تنو زده کوونکو (٪۲۰) په لـږه انـدازه، ۱۲ تنـو زده کوونکـو (٪۳۰) تریوې اندازې او ۲۰ تنو نورو زده کوونکو (٪۵۰) زیاتې اندازې پورې د فعالې زده کړې پرمهـال د زده کوونکو سره همکاري کوي

**د اوومې پوښتنې ځواب.**

د دې پوښتنې په ځواب کې ۳ تنو زده کوونکو (۷,۵٪) په لږه اندازه، ۷ تنـو زده کوونکـو (۱۷,۵٪) تريوې اندازې او ۳۰ تنو نورو زده کوونکو (۷۵٪) زیاتې اندازې پورې فعاله زده کړه د علمي کولو پروخت ستونزې درلودې.

**د اتمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې ۸ تنو زده کوونکو (۲۰٪) تريوې اندازې او ۳۲ تنو نورو زده کوونکو (۸۰٪) زیاتې اندازې پورې ښوونکي او زده کوونکي د فعالې زده کړې سره علاقه او دلچسپي لري.




ګراف ۲: د زده کوونکو پوښتلیکونو د ځوابونو ګراف

**۱۸. مرکې د پوښتنپاڼو ځوابونه(Answer to the interview Questions)**

**۱پ ـ** تاسو په خپل تدریس کې له کومو میتودونو څخه کار اخلې؟

۲پ ـ ایا تاسو په تدریس کې د فعالې زده کړې له میتود څخه کار اخلې؟

۳پ ـ ایا د فعالې زده کړې میتود څخه د استفادې په کولو درسي موضوع د پلان سره سمه پر مخ ځي؟

۴پ ـ ایا تاسو ته د فعالې زده کړې میتود د پلي کولو لپاره شرایط او امکانات برابر شوي دي؟

۵پ ـ فعاله زده کړې میتود په عملي کولو سره د درس اصلي، اساسي او شخصي اهداف تر کومې اندازې تر لاسه شوي دي؟

٦پ ـ ایا ټول زده کوونکي د دې میتود په عملي کولو سره په درس کې سهیم وي؟

۷پ ـ د فعالې زده کړې میتود په عملي کولو کې د کومو لویو او کوچنیو ستونزو سره مخ یاست؟

۸پ ـ د زده کوونکو تعداد ته په کتو تدریسي ټولګي د فعالې زده کړي میتود عملي کولو لپاره برابر دي؟

۹پ ـ ایا د فعالی زده کړي میتود د ستونزو لپاره مسولو چارواکو له خوا اقدامات شوي دي؟

۱۰پ ـ ایا د فعالې زده کړي د عملي کولو لپاره د مسولو چار واکو څخه کومې غوښتنې لري؟

**د لومړۍ پوښتنې ځواب**

د مرکې لومړۍ پوښتنې ته ټولو(٪۱۰۰) د نظر په یوالي سره یوشان ځواب ورکړی وه، دوي په خپلو مصاحبو کې ویلي وه، چې د تدریس د وړاندې کولو په وخت کې د مختلفو میتودونو څخه استفاده کوو. مثلاً لکچر، سوال او ځواب، ګروپي کار، د مسلې د حل او داسې نورو میتودونو څخه کار اخلو.

**د دویمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې ټولو(٪۱۰۰) د نظر په یوالي سره یوشان ویلي وه، چې مونږ د میتودونو په منځ کې د فعالې زده کړې د میتود څخه کار اخلو.

**د دریيمې پوښتنې ځواب**

د دې په پوښتنې په ځواب کې ۲ تنو یو مدیر او یو سرښوونکي (٪۴۰) کې ویلي دي چې تر یوې اندازې پورې درسي موضوع د پلان سره سمه پرمخ ځي ۲ تنو ښوونکو(٪۴۰) ویلي وه چې په سمه توګه درسي موضوع د پلان سره پرمخ ځي او ۱ تن ښوونکي (٪۲۰) ویلي وه چې په کمه اندازه، د فعالې زده کړې پرمهال درسي موضوع د پلان سره سمه پرمخ ځي.

**د څلورمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې یو تن (٪۲۰) ویلي دي، چې تر یوې اندازې پورې د فعالې زده کړې لپاره شرایط برابر شوي دي او ۴ تنو د سرښوونکو په شمول ښوونکو(٪۸۰) ویلي دي، چې د فعالې زده کړې د میتود د کارولو لپاره د اړتیا وړ شرایط او امکانات نه دې برابر شوي.

**د پینځمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې ټولو(٪۱۰۰) د نظر په یوالي سره ویلي وه، چې دلته دوه خبرې مخې ته راځي، اول دا چې که د فعالې زده کړې لپاره مناسبي اسانتیاوي برابري شي نو د درسي موضوع

اصلي، اساسي او خصوصي موخې په ښه ډول ترلاسه کېږي، او که چېرته ورته سم امکانات برابر نه شي نو بيا يادې موخې په سمه توګه نه ترلاسه کېږي.

**د شپږمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې ټولو (٪۱۰۰) د نظر په يوالي سره ويلي وه، که چېرته د فعالې زده کړې اصولو په سمه توګه په پام کې ونيول شي، نو د وخت د ضايع کېدو د مخنيوی سبب کېږي او که چېرته ونه نيول شي نو بيا وخت په کې ضايع کېږي.

**د اوومې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې ټولو داسې ويلي وه، چې ټولو زده کوونکو ته په فعالې زده کړې په ميتود کې په مساويانه ډول سره برخه نه رسېږي او علت يې هم په ټولګيو کې د زده کوونکو د شمېر زياتوالی او د وخت کمښت دی.

**د اتمې پوښتنې ځواب**

ټول په دې اند وه، چې د فعالې زده کړې د عملي کولو پروخت يولړ ستونزې موجودې دي، چې عبارت دي له: د درسي ساعتونو د وخت کمښت، د زده کوونکو په ټولګيو کې زياتوالی، د فعالې زده کړې په اړه د ښوونکو کم پوهاوی او همدارنګه د ټولګيو د خونو کوچنيوالی.

**د نهمې پوښتنې ځواب**

د دې پوښتنې په ځواب کې مدير او سرښوونکي په(۴۰) کې يوشان نظر درلوده او ويلي وه، چې د دغو ستونزو د حل لپاره يې هلې ځلې شوي دي، او ۳ تنو ښوونکو(٪۶۰) ويلي وه چې د فعالې زده کړې پر وړاندې د ستونزو د حل په اړه کوم تدابير نه دې نيول شوي.

**د لسمې پوښتنې ځواب**

ټول په دې اند وه چې زمونږ د چارواکو نه په دې مورد کې دا غوښتنه ده چې بايد د ښوونکو لپاره د فعالې زده کړې د ښه عملي کولو لپاره سمينارونه او ورکشاپونه داير شي، په ټولګيو کې د زده کوونکو شمېر کم شي(۲۰-۲۵) پورې بايد شي، تدريسي خونې دې پراخه جوړې شي او د اړتيا وړ امکانات او شرايط دې ورته برابر شي.

**۱۹. د ښوونکو له درسي ټولګیو څخه مشاهده**

مشاهده په پینځوو مختلفو ټولګیو کې د پینځوو ښوونکو د تدریس له جریان څخه وشوه، ټولګي په مختلفو لېسو کې ټاکل شوي وه، په مشاهده کې د پینځوو ښوونکو د تدریس جریان مشاهده شو، ولیدل شول، چې دوه ښوونکو په تدریس کې فقط د لکچر میتود څخه په خپل تدریس کې ګټه اخیستله چې دا یو زوړ او عنعوي میتود دی، زده کوونکې په کې غیري فعال وي او استاد د تدریس ټولي چاري پرمخ وړي، دوه نورو ښوونکو د د سوال او ځواب میتود څخه په کمه اندازه ګټه اخیستله او یو بل ښوونکي له لکچر او ګروپي کار میتودونو څخه استفاده وکړه، او زده کوونکو د تدریس او د ښوونې په پروسه کې په فعاله او همکاره ډول سره نه تر سترګو کېده. ټولو زده کوونکو ته په مساویانه ډول سره وخت ونه رسیده، او په یو ټولګي کې داسې هم وشول چې ښوونکي ته وروسته وخت پاتې نه شو، تر څو د خپل درس ارزونه وکړي او هغه موخي چې د یوي درسي موضوع څخه باید ترلاسه شي ترلاسه شوي او که نه، خو د نورو معیارونو په برخه کې چې د مشاهدې لپاره په نظر کې نیول شوي وه، مثلاً د نصاب مطابقت په درسي ساعت کې د زده کوونکو حضور، د زده کوونکو سره د برخود لاره، د ټولګي پاکي او نظافت، د ټولګي نظم او اراموالی او داسې نور موارد.... نسبتاً په نظر کې نیول شوي وه.

**مناقشه**

دا څېړنېزه مقاله د فعاله زده کړي په وړاندې ستونزو تر سرلیک لاندې د غور ولایت په مرکز کې پینځو لیسو کې د پوښتنپاڼو، مرکو او مشاهدو له لارې معلومات را ټول شوي

دغه معلومات کوم چې موږ د څېړنیزه پروژې څخه ترلاسه کړي دي، په مخکینیو کتابونو کې هم ډېرو پوهانو دغې برخې ته توجه کړې ده، ولې یو اساسي ټکی چې په دغه څېړنیزه پروژه کې لاسته راغی، هغه دا دی چې د دغه مېتود د عملي کولو پروړاندې یو لړ ستونزې په ګوته شوې چې عبارت دي له:

۱ـ د وخت کمښت. ۲ـ په ټولګیو کې د زده‌کوونکو د شمېر زیاتوالی، ۳ـ ټولګیو یو د بل څخه واټن، د بشپړو امکاناتو او اسانتیاوو نه شتون. ۴ـ د ټولګیو د خونو کوچنیوالی او دفعالې زده کړې په اړه د ښوونکو او زده کوونکو کم پوهاوی او داسې نور...

په پورته یادو ټکو باندې په مخکنیو کتابونو او څېړنېزو مقالو کې بحث نه وو شوی. په ځینو کتابونو کې د فعالې زده‌کړې په ګټو باندې خبرې شوي وي، خو ما په دې علمي مقاله کې د فعالې زده په موثریت، ګټې د بېلې زاویه څېړلې دي، لوستونکې کولی شي په اساني د فعالي زده کړې میتود په ګټو پوهه شي د څېړنې په صورت کې مې د مکاتبو مدیران، سرښوونکي، ښوونکي او زده‌کوونکي غړولي دوی هم د فعالې زده کړې د ګټو سره همغږي وو د څېړنې په نتیجه کې جوته شوه چې زیاتره زده کوونکي په خپلو زده کړو کې غیري فعاله و او د تدریس کړنلاره هم په داسې ډول وه چې یوازې د ګوتو په شمېر زده کوونکي په درس کې برخه اخیسته، بل دا چې مخکې په فعاله زده کړه کې په فردي ازادۍ باندې ډېر تاکید شوی وه، خو د دې څېړنې په ترسره کولو کې داسې معلومه شوه چې ټول زده کوونکو ته په درس کې ازادي ورکړل شوي ده، خو له بدمرغه څو تنو په محدودو ډول د دغې ازادۍ څخه استفاده کوله.

الهام په خپل کتاب کې داسې لیکلي دي چې ښوونکي زیاتره وخت پوهه زده کوونکو ته له خپلې پوهې، لومړنیو تجروبو او کله کله د نورو له تجروبو څخه په کار اخیستلو سره انتقالوي، خو په څېړنه کې هم داسې ثابته شوه چې ښوونکو د پوهې په انتقال کې له بېلابېلو لارو څخه کار اخیسته. صاحبزاده په خپل کتاب کې داسې ویلی دي چې د فعالې زده کړې پر وخت درسونه په منظم او سیستماتیک ډول سره پرمخ ځي او په مسلسل ډول عملي کېږي، خو له بدمرغه زموږ په هېواد کې درسونه په منظم ډول صورت نه نیسي. حقیار په دې اند دی چې د فعالې زده کړې سره د ښوونکو او زده کوونکو دلچسپي زیاته وي او زیاتېږي. د دې څېړنې نتیجې هم دا وښودله چې د فعالې زده کړې سره د ښوونکو او زده کوونکو علاقه او مینه زیاته ده.

**پایله**

په دې مقاله کې د غور ولایت په مرکزي ښوونځو کې فعالې زده کړې میتود د عملي کولو په وړاندې په پرتو ستونزو او د هغې د حل په لارو چارو خبرې شوي، د غور ولایت په پینځو ښوونځیو کې د ( مدیرانو، سرښوونکو، ښوونکو، او زده کوونکو) څخه را ټول شوو معلوماتو څخه لاندې پایلې په لاس راغلي دي، د هرې درسي موضوع لپاره ټاکل شوی درسي ساعت یا وخت چې ورکړل شوی کم دی د( ۳۵ـ ۴۵) دقیقو دی په دې درسي ساعت کې د فعالې زده کړې میتود څخه استفاده نه شو کولی، په ټولګي کې ګروپي کارونه او ټولو زده کوونکو ته په مساویانه

ډول وخت ورکول چې په درسونو کې فعاله برخه واخلي، دې ستونزو ته په کتو یوازې په کم تعداد زده کوونکي په درس کې سهیم وي، د فعالې زده کړې په اړوند د ښوونکو کم پوهاوی او د مسلکي پوهي نشتوالی هم تر ستړکو کیږي چې د فعالې زده کړې پروسه یې له ستونزو سره مخ کړې ده حتی کله نا کله د فعالې زده کړې میتود عملي کول هم ناممکن وي چې په اوسني وخت کې د زده کړو په سیستم کې دا یوه جدي ستونزه ده، د دې ستونزو له منځه وړلو لپاره باید ښوونکو ته د معاصرې میتودولوژۍ ورکشافونه دایر شي تر څو ښوونکي د فعالې زده کړې میتود په عملي کولو باندې بر لاسي شي او په خلاص مټ تري ګټه واخلي همدا رنګه په مکاتبو کې د عملي او تجربوي کارونو نشتوالی دی په ځانګړې توګه د فزیك او کیمیا په درسي ساعتونو کې داسې ښکاري چې هیڅ لابراتواري او ساحوي کار نه لري ډیری ټولګي اړین توکي او اسانتیاوي لکه اړین درسي کتابونه، بریښنا، مناسب میزونه او چوکۍ او داسې نور نه لري، په کم تعداد ښوونکي درسي پلان لري، اکثریت ښوونکي د خپل مسلك سره علاقه نه لري. یوه خبره چې یو څه د اندیښنې وړ ده هغه د ښوونکو او زده کوونکو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ نشتوالی دی چې فعاله زده کړه یې له ستونزو سره مخ کړې ده، د تدریس لپاره اکثریت ښوونکي په ښه ډول چمتوالی نه لري درس په سمه او معنی داره توګه نه وړاندې کوي داسې میتودونه غوره کوي چې زده کوونکي په کې غیري فعال وي یوازې څو فعاله او هوښیار زده کوونکو ته فرصت ورکول کیږي چې په مکرر ډول د ټولګي په فعالیتونو کې برخه واخلي، په اخر کې که خپله ښوونکي او یا مسول چارواکي په واقعي ډول ارزونه وکړي هغه اهداف او موخې چې باید تر لاسه شي واقعاً نه دي تر لاسه شوي. نو په همدې ترتیب له دې څېړنیزې مقالې څخه اصلي موخه د فعالې زده کړو په وړاندې د ستونزو پیدا کول او مسول چار واکي ورته متوجه کول دي.

**وړاندیزونه**

څرنګه چې د فعالې زده کړې میتود د زده کوونکو په زده کړه کې اغېزمن میتود دی، خو د عملي کولو پرووړاندې یې یو لړ ستونزې موجودې دي، د دې ستونزو له منځه وړولو او حل لپاره یو څو وړاندېزونه په لاندې ډول وړاندې شوي.

1- د فعالې زده کـړې د ښه تطبیق لپاره باید ښوونېزې اداري قوي اصول، قواعد او معیارونه وضع کړي.

2 – د فعــالې زده کــړې عملــي کولو لپاره باید بشپړ شرایط او امکانات برابر شي، ترڅو زده کړه په سمه او مؤثر توګه صورت ونېسي.

## منابع


ابدالي، محمد ابراهیم. (۲۰۰۰). درسي پلان درسي کومکي مواد. کابل: یونسکو. ۳۵م

افغان، شازیه، (۱۳۹۸) څېړنه، کابل، نویساخپرندویه ټولنه،۶۱م.

الهام، محمد رحیم. (۱۹۹۵). د ښوونکو لپاره عمومي لارښود. پیښور: دانش خپرندویه ټولنه. ۳۰ - ۳۱م

تازه، سمیع الله. (۲۰۰۷). د تدریس مهم عناصر. کابل: میوند خپرندویه ټولنه. ۱۶ – ۱۷م

حقیار، عبدالمنان. ( ۱۳۹۳). روانشناسي تربیتي. کابل: چاپ و صحافي چاپخانه سباوون. ۱۳ – ۱۴م

حقیار، حکیم خان، ۱۳۹۵، ښوونېزه او روزنېزه ارزونه ارزونه، ننګرهار، هاشمي خپرندویه ټولنه، ۳۴م

سالمي، محمدعالم. (۲۰۰۲). د ښوونکو د مسلکي زده کړې لپاره د تدریس عمومي میتودونه او درسي ممد مواد او لوازم. پېښور: ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز. ۲۱ – ۲۳ م

سعید، سعید الحق. (۱۳۸۹). د ژبې او ادب د تدریس اصول لکچر نوټ. ننګرهار پوهنتون: د ښوونې او روزنې پوهنځی. ۴۷ – ۴۹م

سعد، محمد عیسی. (۲۰۰۵). ښوونه او روزنه. پیښور: دانش خپرندویه ټولنه. ۵۰ – ۵۲م

شهبازخیل، رحمت الله، (۱۳۹۵)، د ښوونې او روزنې بنسټونه، ننګرهار، مومند خپرندویه ټولنه، ۲م

شیرزاد، پښتواقا، (۱۴۰۰) د ژبې د تدریس اصول، کابل نویسا خپرندویه ټولنه، ۲۰ـ ۲۱م

صاحبزاده، سعدالله. (۱۹۸۸). مواد ولوازم ممد درسي. کابل: SAB.P.MT. ۲۷م

صالح، علي اکبر،(۱۳۹۷) ښوونیزه اداره، ننګرهار، ختیځ خپرندویه ټولنه،۴۱م.

مجله، عرفان. (۱۳۸۱). د پوهنې وزارت. ۱۹م

مجله، عرفان. (۱۳۵۹). د پوهنې وزارت. ۲۱م

ملك، خالقداد، پښتو مترجم، امینزی، معراج الدین،(۱۳۹۶) ننګرهار، لیکوال کتاب پلورنځی، ۴۳م.

هاشمي، سید اصغر، (۱۳۹۶) د څېړنې بنسټونه، ننګرهار، هاشمي خپرندویه ټولنه، ۲۵م.